## مطبوعاتي اعلاميه

### د خلافت د ړنګېدو د تلین په پار

### د لندن کرغېړن نوښتګر کنفرانس؛ د ښکېلاکګرې کافرې برتانيې او لوېديځ د دسيسو ياد تازه کول دي

د ۲۰۱۹ د فبروري پر ۲۸ مه، په لندن کې د «ودې او فرصت» تر سرلیک لاندې د لندن نوښتګر کنفرانس د برتانيې او اردن د ګډو هڅو په پايله کې جوړ شو. «دغه کنفرانس د اردن او نړيوالې ټولنې ترمنځ يو نوی مشارکت په ګوته کوي چې د اردن دوامدارې ودې ته او پر خپل ځان بسيا کېدو ته لاره هواروي.» برتانيه، که څه هم له اروپايي ټولنې د وتلو موضوع (Brexit) او مالي ستونزو ښکېل کړېږي، خو د اردن رژيم د رامنځته کېدو او په سيمه کې د دې رژيم د پياوړي بنسټ د ملاتړ له وخت څخه، ليواله ده چې نړيوالې ټولنې ته د منځنې ختيځ د کړکېچ د وخت هغه چوپړونه ور په زړه کړي چې د اردن رژيم ورته چمتو کړي و، لکه څرنګه چې په دې وروستي بيانيه کې ترې يادونه شوې: «اردن د سيمه ييز ثبات او توازن په وده کې ډېر حياتي رول لوبولی او همدارنګه د تروريزم او سختدريځی پر وړاندې له نړيوالو هڅو څخه يې ملاتړ کړی.» همدارنګه ياده بيانيه زياتوي: «د لندن نوښتګر کنفرانس چې د اردن له لوري جوړ شوی، يوه پنځه کلنه طرحه ده چې د پرانيستي ودې، پانګې اچونې او د اردن د وګړو لپاره د دندو په موندلو کې مرسته کوي... نړيواله ټولنه اړتيا لري چې د يادو هڅو ملاتړ وکړي او د بريا په برخه کې يې ونډه واخلي. اردن به د نړيوالو او سيمه ييزو شريکانو ملاتړ ته اړتيا ولري، ترڅو اقتصادي اصلاحات په ښه توګه ترسيم او د اقتصادي اصلاحاتو په موخه يې ملاتړ همږغی کړي.

د انګريز د نوښتګر کنفرانس په تړاو، موږ يادو ټکو ته ستاسو پام را اړوو:

1. راځئ چې د ۲۰۱۸ د ډيسمبر پر ۲۶ مه د حزب التحرير- ولايه اردن رسالې ته بيا کتنه وکړو: «د اردن رژيم خپل ځان ښکېلاکګرو هيوادونو او د پيسو نړيوال صندوق پاليسيو ته سپارلی، چې دغه کار د هيواد د ورانۍ او لويې بدمرغی لامل ګرځي. د هيواد ژغورنه ټينګ هوډ او ډېرې پاملرنې ته اړتيا لري چې د هيواد او خلکو لپاره کومه او څه ډول طرحه چمتو شي. د دې لپاره چې هيواد مو له يادو بدمرغيو او کړکېچونو څخه ژغورلی وي، بايد د ستونزو لاملونه وپېژنو. اردنی رژيم د سايکس پيکو له تړون وروسته د برتانيې د سياسي پرېکړې په پايله کې رامنځته شو، له لوی اسلامي امت څخه بېل شو او د لوېديځ ښکېلاکګر کافر او د هغه له پانګوال نظام سره ونښلول شو. ياد هيواد د مرستو، بلاعوضه بسپنو او پورونو له لارې تمويلېږي، خو د هغه واقعي اقتصاد چې له واقعي صنعت، کرهنې، د کانونو استخراج او له شتمنې څخه د اعظمي ګټې اخيستنې پر بنسټ ولاړ دی، مخه نيسي او آن د يهودي دولت د يوه ساتونکي په توګه کار کوي- هغه دولت چې مسجد الاقصی يې اشغال کړی او د فلسطين د مبارکې خاورې خلک، ونې او ډبرې يې له منځه وړي دي. له همدې امله اردن د لوېديځو دولتونو په لاس کې يرغمل دی، د دوی ګټې خوندي کوي او د دوی پلانونه پلي کوي. موږ يو ځلې بيا په ورته رساله کې پر دغو ټکو ټينګار کوو: له دغې بې کفايتی، پورونو او بې وزلی څخه د خلاصون لاره دا ده چې اسلام ته بيا راوګرځو او په اسلامي شريعت کې حلالې ولټوو، ترڅو دولتي عايدات او لګښتونه مو له اسلامي شريعت سره سم چمتو کړي وي او دا ټول هغه مهال شوني دي چې خپلې اقتصادي او مالي تګلارې د اسلام د اقتصادي نظام په اډانه کې جوړې کړو او خپل ځانونه د پانګوال نظام، د هغه د افکارو، وسايلو،

**سودي نظم، پورونو، ماليو او همدارنګه د پيسو نړيوال صندوق او نړيوال بانک څخه خلاص کړو. دغه د خلاصون او هيواد ژغورنې لار ده او دا هغه څه دي چې حزب التحرير يې له تاسو غواړي.**

2. د خلافت د ړنګېدو تلين چې د ۱۹۲۴ د مارچ له ۳ مې سره سمون خوري، زموږ بايد هير نه وي چې برتانيه د خلافت د ړنګولو سرلارې وه او تر څو لسيزو هځو وروسته يې خلافت د خپل لاسپوڅي مصطفی کمال پر مټ ړنګ کړ. له دغه ځايه د مسلمانانو بدمرغي پيل شوه او دا د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې د برتانيې کرغېړنه دسيسه وه. يو له دسيسو څخه دا وه چې د سايکو پيکو تړون له مخې يې اسلامي خاوره بېله کړه او د فلسطين په خاوره کې يې يهودي دولت تاسيس کړ. بله دسيسه يې دا وه چې هند او پاکستان يې سره بېل کړه او کشمير يې هندوانو ته ورکړ. امريکا د اسلام او مسلمانانو پر ضد جګړه له برتانيې څخه په ميراث واخيسته او د نبوت پر طريقه د خلافت د بيا راڅرګېدلو مخنيوی يې وکړ. برتانيه په دوکه او فريب کې لومړۍ درجه ده او اصلي دښمن دی. پر کوم اساس موږ له دوی څخه د مرستې او اقتصادي ملاتړ تمه وکړو؟! هغه ښکېلاکګر کافر ته چې دوی ته يې واک او ځواک ورکړی، له غلامۍ، سرټيټۍ او پلوۍ پرته بل څه کېدای شي. برتانيه په اردن کې داسې رژيم غواړي چې نړيوالې ټولنې ته يو مارکېټ وي او په کوردننه، په سيمه او آن نړيواله کچه د دوی ګټې خوندي کړي او خپل وګړي له پامه وغورځوي او يوازې دومره ورکړي چې د دوی تر څارنې او امر لاندې وي.

3. وروستۍ بيانيه په پورونو د سود اندازه او هغه مرسته چې د برتانيې، فرانسې، د اروپا د پانګې اچونې بانک او جاپان له لوري يې ژمنه شوې ده، نه ده په ګوته کړې چې شمېر يې ۱۱۷۰ ميليونو ډالرو پور او ۱ ميلياردو ډالرو مرستو ته رسېږي. په دې تړاو د اردن د ماليې وزير وويل، چې دغه پورونه به د هغو معينو پورونو په اندازه کې ډېروالی رانه ولي، خو د حکومتي پلان په چوکاټ کې د ناخالص کورني توليد په تناسب پورونه کموي! دا د خلکو تېر ايستنه او غولونه ده او د تېرو پورونو په اندازه کې نور هم زياتوالی راولي. کورنی ناخالص توليد پرته له غوښتل شويو پروژو څخه نه ډېرېږي. سربېره پر دې ګڼ پورونه او بلاعوضه مرستې ناباوره ژمنې دي، هغه وخت يې په اړه باور کېږي چې ورکړل شي، البته سياسي وضعيت ته په کتو سره او همدا رنګه په اپرېل کې د پيسو نړيوال صندوق اجرايه بورډ تر دوېمې ارزونې راپور وروسته.

4. ټولې مرستې، پورونه او بسپنې د هغه سياسي اډانې په دننه کې ورکول کېږي چې شرط په کې لوېديځو ښکېلاکګرو هيوادونو لکه امريکا، برتانيه او فرانسې ته غاړه ايښودل وي او دا مرستې د خلکو او امت هيڅ درد نه دوا کوي. د دغو مرستو بنسټيز شرط د تروريزم او سختدريځۍ پر وړاندې مبارزه ده چې په حقيقت کې د اسلام او د اسلامي دولت د بيا تاسيسېدو پر وړاندې مبارزه ښيي- هغه دولت چې ټول اسلامي احکام په بشپړه توګه پلي کوي. هغه دولت چې امت يې ارمان لري او د تاسيسېدو په موخه يې امت نه ستړي کېدونکې مبارزه کوي. دا د پېغمبر صلی الله عليه وسلم پر طريقه هغه رښتنی راشده خلافت دی. په ۱۹۳۸م کې يو برتانوی کاتوليک ليکوال هيلېري بيلاک په خپل کتاب کې د سياسي دولت تر سيوري لاندې د اسلام د بياځلې راڅرګېدو خبرداری ورکوي: «په احتمالي توګه ماته داسې ښکاري او آن په يقيني توګه به اسلام بيا را څرګند شي او زموږ د زامنو او نيکونو هغه جدي مبارزه چې د عيسوي تمدن او هغه چې له زرګونو کلونو څخه زياته يې له خپل لوی مخالف سره کوله... اسلامي تمدن په مادي اړخ کې ښايي لوېدلی وي؛ هيڅ دليل نشته چې ولې بايد نوی درس وانخلي او زموږ سره په ټولو مادي اړخونو کې سيال شي او اوس دا زموږ يوازېنۍ غوراوی دی پر هغه باندې - په داسې حال کې چې په

عقیده موږ تري وروسته یو... اوس ښایي همدغه کرښې بسنه وکړي- تر یوه مشر لاندې یووالی ـ د اسلام بیا ځلي راګرځېدنه ښایي راشي...تر اوسه داسې کوم مشر نه دی راغلی، خو د خلکو لیوالتیا ښایي د راتګ لامل شي او له نني سیاسي وضعیت څخه هم داسې ښکاري چې اسلام به بیا ځلې راګرځي ـ دا حالت لیري نه دی، نږدې دی.

**اې د اردن خلکو!** موږ د حزب التحریر غړي د دې ګوند له تاسیس څخه په خپلو خپرونو او لیکنو کې تاسو ته په کلونو کلونو د اردن د رژیم واقعیت، د ښکېلاکګرو ځواکونو له لوري د شتمنۍ د لوټولو، د خلکو د سپکولو او د اردن د خلکو د ګمراه کولو او اسلامي فضا څخه د هغوی د ایستلو یادونه کړې او کوو یې. خو اسلام غواړي چې راپورته او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم پر طریقه ریښتنی راشده خلافت تاسیس شي، ترڅو اسلام مو بیرته ژوند ته راوګرځي. په دې تړاو نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: «**إِنَّمَا الإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ**» په ریښتیا سره امام (خلیفه) ډال دی چې تر شا یې مسلمانان جګړه کوي او په هغه سره ځان ساتي.

هو، د خلیفه شتون ته د یو ډال په توګه کتل کېږي چې د امت ساتنه کوي او د امت پر وړاندې د دښمنانو دسیسې شنډوي. خلیفه به د مجاهدینو په لومړۍ کرښه کې ولاړ وي، له اسلام څخه به دفاع کوي او ټولې نړۍ ته به د اسلام دغه خوږ پیغام لېږدوي. پر همدې بنسټ، له هغه فاسد نظام څخه باید حللاره غوره نه شي چې بنسټ یې د الله سبحانه و تعالی رالېږلی نظام نه وي. فاسد نظام د فساد په لمنځه وړلو سره نه اصلاح کېږي، خو دا چې نظام اسلامي وي هغه چې الله سبحانه وتعالی یې په تړاو وایي:

**(وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللهِ حُكْماً لِقَوْمٍ يُوْقِنُونَ)**

[المایده: ۵۰]

*ژباړه: او په فیصله کولو کې له الله څخه (بل) څوك ډېر ښه دی، د هغه قوم لپاره چې یقین کوي!*

له یوه ښکېلاکګر څخه د بل ښکېلاکګر لمنې ته پنا وړل له سر غړونې څخه بل څه کېدای شي، سره له دې چې اراده، حسن نیت وي. دا د اسلام بنسټیز اصل او د الله سبحانه و تعالی او د هغه د پېغمبر صلی الله علیه وسلم له حکم څخه سرغړونه ده. د ښکېلاکګر کافر د حکومت پر وړاندې له مبارزې څخه پرته چې کومه بله تګلاره پر لاره پر مخ بېول کېږي، په اصل کې خطا ده. ځکه چې هغوی داسې استبدادي حکومت جوړوي چې د امت لپاره د منلو وړ نه دی او په ټولو اسلامي هیوادونو کې د امت غوښتنه څرګنده ده او امت ژوند ته د اسلام بیا راګرځېدل غواړي.

**د حزب التحریر- ولایه اردن مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۰/۱۸**

۱۴۴۰هـ.ق، د جمادي الثاني ۲۷مه

۲۰۱۹م، د مارچ ۱۲مه